بسم الله الرحمن الرحيم

# د غونډې خبرې

هغه ګران بيه ميراث چې اهلبيتو(ع) له ځانه وروسته پريخی دی او د هغوي لارويانو هغه له ورک شونې څخه ساتلی دی د مکتب يوه کامله بيلګه ده چې د اسلامي علومو بيلا بيلې څانګې لري. او د علم ډير تږي يې له دې چينې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان يې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبيتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بيلا بيلو سوالونو، شبهو فکري بې لاريو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پيړيو کې يې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري يې اختسې ده ـ د رسالت له حريمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندې شوی ده. هغه حقيقتونه چې د بيلا بيلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو هميشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړی دی. د اهلبيتو نړيواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبيت (ع) د ريښتني لارويانو او شاګردانو څخه ګڼې، هغه شاګردان چې هميشه دې تهمتونو لرې کولو ته تيار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانی د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې ښه د اهلبيتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخيره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاويږي. ځکه چې دا تجربې او دليلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځايه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دليلونه ومني او قبول يې کړي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، ليکوالانو او د هغه کسانو چې د

اهلبيتو(ع) مذهب يې قبول کړی دی، کتابونه چاپ کړي او د حقيقت د چينې تږو ته يې وړاندې کړي.

دې غونډې د شيعه وو د تېر شويو عالمانو ليکل شوې کتابونه او تحقيقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقيقت د لټوونکو لپاره د يو خوږې چينې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کيدو دی، د اهلبيتو(ع) هغې حقيقتونو ته چې د نړيوالو لپاره يې د تحفی غوندې پريخې دي غوږ کيدي.

هيله لرو چې د دې غونډې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قيمتي وړانديزونو او ښو نيوکو څخه خبر کړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه کوونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پيغمبر(ص) دين په خپروني کې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدايه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړکې غوندې کوښښ په خپلې درګاه کې قبول کړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشريف) د سوري لاندې نور توفيق هم راکړي.

دې ځاي کې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحيم دراني څخه مننه وکړو چې د دې کتاب په ژباړې کې يې له مونږ سره مرسته وکړه او همدارنګ له هغې کسانو چې د دې کتاب په پوره کيدو کې يې له مونږ سره مرسته کړې، په بيله توګه هغه کسان چې د ترجمې په اداره کې کوښښ کوي.

د اهلبيتو(ع) د نړيوالې غونډې

فرهنګي معاونت

# څلورم امام حضرت امام سجاد زين العابدين (ع)

## زوکړه:

د حضرت امام سجاد(ع) نوم" على" او مشهور لقبونه يې زين العابدين او سجاد دى، د هجرت په اتئ ديرشم کال د جمادى الاول مياشتې په نيماې کښې په مدينې کښې دنيا ته راغى[1]، پلار يې د شهيدانو سردار امام حسين عليه السلام دى او مور يې"بى بى شهربانو" ده.[2]

1 . مسارالشيعه شيخ مفيد ص 34
2 . اصول کافي ج 1 ص 467

# اخلاقی ځنګړتیاوې

د امام سجاد(ع) په زمانه کښې یو سړي د هغوي د ځینو ملګرو په وړاندې هغوي ته بد رد وویل او لاړو،امام سجاد(ع) موجودو کسانو ته وویل ددۀ خبرې خو مو واوریدې اوس راځی چې زما ځواب هم واوری، هغوی له امام سجاد(ع) سره روان شول او وې ویل بهتره وه چې هماغه وخت چې دۀ په تا پسې بد رد ویل ځواب دې ورکړی وی امام د هغه سړی د کور په لور روان شو او په لاره یې د قران دا ایت تلاوت کړو چې دمومنانو ځینې لوړ اوښۀ صفتونه یې بیان کړی دی:

"...وَالْکَاظِمِنَ الغَیظ والعَافِینَ عَنِ النَاسِ وَاللّهُ یحب المُحْسِنِین".[1]

(یعنی هغه کسان چې خپله غصه ښبی او د خلقو د بدو او زیاتیو تیریږي، او خداي نیک کسان خښوي)

د امام ملګري له دې ایته پوه شول چې امام د بدل اخستلو لپاره نۀ دی روان کله چې د هغې سړي کور ته ورسیدل امام هغۀ ته اواز وکړو هغۀ په دې ګمان سره چې امام د بدل اخستلو لپاره راغلی دی ځان جنګ ته تیار کړو او بهر راووت. امام سجاد(ع) هغۀ ته نزدې ورغی او وې فرمایل ای وروره! تا چې څو شیبې مخکښې ماته کومې خبرې وکړې که

1 . سوره ال عمران ایه 134

دا ما کښی وې نو خدایې ما اوبخښه او که دا په ما کښې نه وې نو له خدایه غواړم چې تا وبخښي د امام سجاد(ع) دې دومره نرمۍ هغه سړی شرمنده کړو، رامخکښې شو د امام تندی یې ښکل کړواوویې ویل: څه چې مې وویل یقیناً په تاسو کښې نشته بلکې زۀ پخپله د دغو بدو ردو لایق یم.[1]

امام صادق(ع) فرمایې چې په مدینه کښې یو مسخره سړی ؤ چې خلق به یې په خپلو کارونو خندول خوویل به یې چې تراوسه مې امام سجاد(ع) نۀ دی خندولی، یوه ورځ یې په لاره کښې د امام سجاد (ع) څادر د هغوی له اوږې واخستو او لاړو، امام د هغوی دې بد کار ته څۀ پام ونۀ کړو، د امام ملګرو له هغۀ څخه د امام څادرواخسته او امام ته یې بیرته راوړو امام پوښتنه وکړه دا څوک ؤ؟ ورته وویل شول یو سړی دی چې خلق خندوي. امام وفرمایل دۀ ته ووایئ چې "اِن للهِ یوماً یخسر فیه المبطلون" (خداي یوه داسې ورځ لري چې په هغې کښې به د فضولو او سپکو کارونو او خبرو واله خلق په خپل تاوان پوه شی)[2]

امام سجاد (ع) به د شپې د مدینې د غریبانو او اړمنو لپاره ډوډۍ وړله او له هغوی سره به یې مالی مرسته کوله کله چې هغه مبارک شهید شو نو خلقو ته پته ولګیده چې دا نا

---

1 . ارشاد شیخ مفید ص240

2 . امالي شیخ صدوق ص 133

پیژندلی کس امام سجاد (ع) ؤ. او د دوی له شهادته وروسته دا هم معلومه شوه چې د مدینې د سلو کورنیو خرچه ددوی په غاړه وه. په داسې حال چې هغوی ته پته نۀ وه چې مرستندوي یې څوک دی.[1]

امام باقر (ع) فرمایي: پلار به مې د مانځۀ په وخت داسې په زمکه پروت ؤ لکه یو مریې چې د یو لوې باچا په وړاندې وي. د خداي له ویرې به رپیدۀ، رنګ به یې بدلیدۀ او مونځ به یې داسې ترسره کولو ګوندې دا یې د ژوند ورستی مونځ وی.

## د مسلمانانو په بیدارولو کښې د امام کردار

بې شکه د امام حسین (ع) د کورنۍ بندیوانیدل د هغه حضرت د سپیڅلی پاڅون په کامیابولو کښې ډیر مهم رول لرلی دی ځکه چې نه هغوی په دې سفر کښې په میړانتوب اوزغم سره خلقو ته دکربلا پیښه نۀ ده اورولې او که خلقو هغوی له نزدې نۀ وو لیدلی نو د امام حسین (ع) شهادت به دومره نۀ مشهوریدۀ او بنی امیه او یزید به دومره نۀ شرمیدل.

د امام حسین (ع) کورنۍ د نورو بندیانو او د خلقو د تصور په اپوټه چې دوي یې مغلوب او ماتې خوړلي ګڼل،چرته چې تلل د خپل بریالیتوب او د دښمن د ماتې او ناکامۍ خبرې یې

1 . تذکره الخواص ابن جوزي ص**184**

کولې. او ځان به یې کامیاب او یزیدیان ناکامه او بد مرغه ګڼل.

د کربلا د پیښې په پاتې شوؤ کسانو کښې امام زین العابدین (ع) او د امام حسین (ع) ګرانې خور بی بی زینب(ع) د خلقو په بیدارولو کښې ډیر رول ولوبولو.امام سجاد (ع) که څه هم د خپل پلار د شهادت په وخت ناروغه ؤ او فطرتی خبره ده چې تر یو وخته پورې ددې ناروغۍ اثارد هغۀ مبارک په اندامونو کښې ښکاره وؤ او د پلار، ورونو او ملګرو په شهادت یې زړۀ سوری سوری ؤ خو سره له دې دا غمونه د هغوی د فریضې په پوره کولو کښې خنډ نۀ شول او له هر فرصته یې د خلقو د افکارو د روښانولو لپاره استفاده وکړه.

په کوفې کښې کله چې خلقو د بی بی زینب(ع) او د هغې د خور فاطمه صغری(ع) د ګرمو خطبو د اوریدلو په وجه له شرمه سرونه ټیټ کړي وو او ژړل یې، امام سجاد (ع) اشاره وکړه چې غلي شئ، ټول غلي شول و بیا هغۀ مبارک د خدای له ثنا او دروده وروسته وفرمایل: ای خلقو! زۀ د حسین (ع) ځوې علی یم، زۀ دهغه چا بچی یم چې مالونه یې لوټ او ولجه شول او کورنۍ یې دلته په بند کښې راغله، زۀ د هغه چا فرزند یم چې د فرات په غاړه بې ګناه شهید کړی شو.

ای خلقو تاسو ته په خدای قسم درکوم، تا سو نه هیر دی چې زما پلار ته مو لیکونه واستول او کوفې ته مو راوغوښت او چې کله راغی نو شهید مو کړو. ای خلقو! تاسو به د قیامت

په ورځ د خداي رسول ته په کوم مخ ورځې، که تاسو ته ووايي چې زما کورنۍ مو ووژله او زما د عزت او ناموس خيال مو ونۀ ساتلو نو تاسو زما امتيان نۀ يئ؟

د امام سجاد (ع) خبرو د يو طوفان په شان د کوفې خلق راوپارول او په هرې لارې او کوڅې کښې ژاړا انګولا جوړه شوه. کوفيانو ژړل او يو بل به يې ملامتول چې بدبخته او هلاک شوو[1] په دا ډول امام اودۀ ضميرونه راويښ کړل او د دې پيښې عظمت او فضيلت يې څرګند کړو او کوفيان يې له خپل جرمه (بې ګناهۍ) خبر کړل.

د امام حسين (ع) کورنۍ يې د ابن زياد ماڼۍ ته بوتله. ابن زياد چې امام سجاد (ع) وليد نو ويې پوښتل دا څوک دی؟ ورته وويل شول على بن الحسين (ع) دی. وې ويل على ابن الحسين خداي ونۀ واژۀ؟ امام وفرمايل زما يو ورور ؤ چې د هغۀ نوم هم على ؤ خلقو هغه شهيد کړو ابن زياد وويل نه خداي هغه وواژۀ. امام وفرمايل! اَللّٰهُ يَتَوَفی الانْفُس حِينَ مَوتِها وَالتِی لَم تَمُت فِی مَنَامِها (خداي پاک د مرګ په وخت روح او ساه وباسی).[2]

ابن زياد وويل: اوس هم زما د ځواب جرأت لرې؟ او په تکبر سره يې خپلو سپايانو ته حکم ورکړو چې هغه مبارک

---

1 . احتجاج طبرسي ص 166

2 . سوره زمر ايه 42

شهید کړي. بی بی زینب کبری(ع) اعتراض وکړو او وې ویل تا زمونږ د کورنۍ هیڅوک نۀ دي پریښی که د حسین (ع) ددې ځوي قتل غواړې نو ما هم ورسره ووژنه. امام سجاد (ع) ابن زیاد ته مخ واړوۀ او وې ویل ای د زیاد ځویه! ما په مرګ ګواښې او له مرګه مې ویروې، ایا تۀ نۀ یې خبر چې وژل کیدل زمونږ عادت او شهادت زمونږ کرامت او عزت دی؟

## په شام کښې

په شام کښې یې امام سره له خپلو څو نورو کسانو په تړلی حالت کښې د یزید ماڼۍ ته بوتلل. امام په بهادرۍ او میړانتیا سره یزید ته مخ کړو او ویې ویل: "مَا ظَنُکَ بِرَسُولِ اللّٰه لَو دأنا مُوثقین فِی الحِبال..." (ای یزیده! څه دې خیال دی که د خدایې رسول مونږ په داسې تړلی حالت کښې ووینی "د امام په دې وړې او پریکنده جملې په ټولو حاضرانو دومره اثر وکړو چې په ژړا شول.[1]

یو مسلمان وایي: په شام کښې موجود ؤم چې د رسول د کورنۍ بندیان یې راوستل او د شام دبازار د جمات په مخکښې یې ودرول. د شام یو بوډا سړي وویل: د خدای شکر چې تاسو یې هلاک کړئ او فتنه یې مړه کړه. همدا راز ډیر بد

1 . تذکره الخواص ص 149

رد يې وويل: کله يې چې خبره ختمه شوه امام سجاد عليه السلام ورته وويل ستا خبرې مې واوريدې خپله دښمني او ميرځی دې ځرګنده کړه اوس ځنګه چې ما ستا خبرې واوريدې تهٔ هم زما خبرې واوره.

هغهٔ وې وايه.

امام وفرمايل: قران دې لوستی دی؟

هؤ لوستی مې دی،

دا ايت دې لوستی دی "قُلْ لا اَسْئَلُکُمْ عَليهِ اَجراً..." (ووايه ای پيغمبره(ص) زهٔ له تاسود خپلې پيغمبری هيڅ بدله نهٔ غواړم مګر دا چې زما له کورنۍ او خپلوانو سره مينه او محبت ولري)[1]

سړي وويل هؤ لوستی مې دی.

ښه نو د پيغمبر اهلبيت (ع) او کورنۍ مونږ يو. ايا دا ايت دې لوستی "ات ذالقربی حقه"(د اقربا حق ورکړه)[2]

هولوستی مې دی.

ښه ذوالقربی مونږيو. بيا امام يو دوه ايتونه مثلا د تطهير ايت ولوستهٔ او وې ويل چې دا ټول زمونږ په فضيلت کښې نازل شوي دي.

1. سوره شوري ايه 23

2. احتجاج طبرسي ص 167

بوډا سړي اسمان ته لاسونه هسک کړل اودرې وارې يې وويل خدايه توبه مې وکړه. خدايه د پيغمبر له کورنۍ سره له دښمنۍ توبه کوم او د دوي له وژونکو کرکه کوم.ما مخکښې هم قران لوستی ؤ خو په دغو حقائقو نۀ ؤم خبر.

## امام د شام په جماعت کښې

يوه ورځ د شام په جامع جمات کښې يزيد يو خطيب ته ووې چې منبر ته وخيژه او په امام علی (ع) او امام حسين (ع) پسې بد رد ووايه. خطيب منبر ته اوختو اودغو دوؤ ته يې ډيرې بدې ردې ووېلې او د معاويه اويزيد تعريف يې وکړو. امام سجاد (ع) هم موجود ؤ او په لوړ اواز سره يې ووېل افسوس دې وي په تا ای خطيبه چې د يزيد خوشحالي دې د خداي په خوشحالۍ واخسته او ځان ته دې په دوزخ کښې ځاې جوړکړو. بيا يې يزيد ته مخ کړو او وې فرمايل! پرېږده چې زۀ هم منبر ته وخيژم او داسې خبرې وکړم چې خداي راضی کړی او د حاضرانو لپاره هم اجر او ثواب لري. يزيد ونۀ منل،خلقو ټينګار وکړو چې پرې يې ږده خو يزيد ووېل که دی منبر ته اوختو نو زما او د ابو سفيان د کورنۍ له رسواۍ پرته نۀ راکوزيږي. خلقو ووېل نو دی څۀ ويلی شي؟ يزيد ووېل دا داسې کورنۍ ده چې علم او پوهه يې په پيو کښې ښنلې ده. خلقو ډير ټينګار وکړو او امام سجاد (ع) منبر ته اوختو د

خداي له ثنا او په رسول له درووده وروسته ي وویل:ای خلقو! خداي پاک مونږته علم، صبر، سخاوت، فصاحت او زړۀ ورتیا راکړه او د مومنانو په زړۀ کښې یې زمونږ مینه پیدا کړه. د اسلام پیغمبر(ص) له مونږ دی. ددې امت صدیق علی(ع) له مونږه دی. جعفر طیار سیدا الشهداء (ع)، حمزه او د پیغمبر دوه نمسي حسن او حسین علیهما السلام له مونږه دي، زۀ د مکې، منا، زمزم او صفا بچی یم زۀ د هغۀ بزرګورار اولاد یم چې حجر اسود یې د عبا په ګوټونو اوچت کړو[1]. زۀ د هغه کس بچی یم چې په یوه شپه کښې له مسجدالحرامه، الاقصی جمات ته بوتلل شو. زۀ د هغه چا ځوی یم چې وحي پرې کیده زۀ د حسین (ع) بچی یم چې په کربلا کښې شهید کړي شو زۀ د حضرت مصطفي(ص)، فاطمې(ع) او خدیجه(ع) اولاد یم. او د هغه چا بچی یم چې په خپلو وینو کښې ولامبول شو(خلقو په جوش او جذبې سره امام ته کتل او امام په هرې جملې سره د خپلې کورنۍ لوړاوی او د حسیني شهادت مقصد بیانولو،ورو ورو خلق په ژړا شول اوبیا په ټول جمات کښې ژړا انګولا خپره شوه) یزید غصه شو او د امام د خبرو د پریکولو لپاره یې موذن ته وویل چې بانګ ووایه. مؤذن شورع وکړه. الله اکبر. امام چې هماغه راز په منبر ۇ وې

1 . د پیغمبر اکرم په لاس مبارک د حجر اسود نصب کیدو ته اشاره ده . له عام الفیل نه 35 کاله مخکښې.

فرمايل:اَللّٰه اكبر وَ اَعلى وَ اَجَل وَ اَكرَم مِمَا اَخَافُ وَ اَحْذر (او خداي پاک له هر شي لوي، لوړ، عزتمن او محترم دی چې زۀ ترې ويرېږم.

(بيا مؤذن ادامه ورکړه) اشهد ان لا اله الا اللّٰه(ګواهي ورکوم چې له خدايه پرته بل معبود نشته)اشهد ان محمدا رسول اللّٰه (ګواهي ورکوم چې محمد د اللّٰه رسول دی)

سرونه ټول ټيټ وۀ او خلقو اذان او ورسره د امام ځواب اوريدو. حضرت محمد(ص) له نوم سره خلقو امام ته وکتل. امام له سره عمامه اوچته کړه او وې ويل:ای موذنه تاته په دې محمد(ص) قسم لږ ودرېږه. موذن ودريدۀ او خلق ټول غلي وۀ د يزيد رنګ هم زيړ ۀ او ډير حيران دريان ۀ چې څۀ وکړي؟ امام يزيد ته مخ کړو او وې فرمايل: ای يزيده! دا رسول چې په بانګ کښې يې نوم راغلی دی ستا نيکۀ دی که زما؟ که تۀ ووايې چې ستا نيکۀ دي نو دروغژن يې او که ووايي چې زما نيکۀ دي نو بيا راته ووايه چې ولې دې زما پلار وواژۀ او مالونه دې راله لوټ کړل او کورنۍ دې راله بندي کړه؟ ای يزيده! سره له دې حضرت محمد(ص) پيغمبرګنې او قبلې ته مونځ کوې، افسوس دې وي په تا.

يزيد موذن ته وويل چې اقامت ووايه، خو خلق سخت غصه وۀ او ان تر دې چې ځنې له جاعته ووتل.[1]

1 . کامل بهائي ج 2 ص 302

تاریخ په دې سفر کښې د امام د خطبو د اثراتو ګواهي ورکوي ځکه چې یزید سره له دې چې په شام کښې د امام سجاد (ع) د وژلو نیت لرلو خو هغه او د هغوي کورنۍ یې مجبوراً په احترام سره مدینې ته ستنه کړه او ډیر وخت تیر نۀ ؤ چې په عراق کښې بني امیه له حکومت سره د مخالفت او انقلاب بیرغونه هسک شول او په زرګونو تنو د امام حسین(ع) د بدلې او انتقام لپاره پاڅون وکړ، نو د امام حسین(ع) د کورنۍ بندیتوب او د امام سجاد (ع) تودو خطبو په بیلا بیلو فرصتونو کښې خلق بیدار کړل او د امام حسین (ع) د شهادت اصلي موخه او پیغام یې خلقو ته ورسوؤ.

## بیمار یا ناروغ امام

امام سجاد (ع) د کربلا په پیښه کښې بیمار ؤ او دا د خداي حکمت او مصلحت ؤ چې دی بیمار وي او د کربلا په پیښه کښې بچ پاتې شي. چې د امامت سلسله او لړۍ جاری پاتې شي. د کربلا له پیښې وروسته هغه بزرګوار روغ رمټ ؤ او ټول عمر یې د دین په تبلیغ او د خپلې دندې په پوره کولو کښې تیر کړو. نو ځینې خلق چې واي "ناروغ سجاد" د دې مطلب دا نۀ دی چې هغه مبارک ټول عمر بیمار ؤ. داسې نۀ ده بلکې له دې امله چې د کربلا په پیښه کښې هغه محترم ناروغ ؤ نو ځینې خلق ورته ناروغ امام وایي.

# امام د خپل وخت له چارواکو سره

امام سجاد(ع) د خپل امامت په دوران کښې له ظالمو حاکمانو سره مخامخ ؤ. یزید، عبدالله بن زبیر، مروان حکم، عبدالملک بن مروان او ولید بن عبدالملک هغه ظالم واکمنان وؤ چې د دوي په زمانه کښې واکمن وؤ.

د شهیدانو د سرخیل امام حسین(ع) له شهادته وروسته د مدینې ځینې کسان د هجرت په کال **62** شام ته لاړل اوله نژدې یې ولیدل چې یزید شراب څښي، له سپو سره لوبې کوي، شپه او ورځ په عیش و عشرت او ګناهونو کښې تیروي. دوي مدینې ته راغلل او خلقو ته یې دا قیصې وکړې. د مدینې خلقو چې د امام حسین (ع) په شهادت هم سخت غصه وو، د مخالفت بیرغ هسک کړو.[1] یزید د مخالفانو د ځپلو لپاره د یو پلیت سړي مسلم بن عقبه په مشرۍ ځینې سپایان مدینې ته واستول. د یزید سپایانو درې ورځې مدینه چور تالا کړه. د لسو زرو تنو قتل عام یې وکړو او هر ډول بې ناموسي او جنایت یې وکړو[2]. د هجرت په څلور شپیتم کال د یزید له مرګه وروسته د هغهٔ ځوی معاویه د هغهٔ په ځایې کښیناست خو له ډیرې لنډې مودې (څلوښت ورځې یا درې

---

1 . کامل ابن اثیر ج 4 ص 103

2 . البدایه والنهایه ابن اثیر ج 8 ص 221 چاپ اول.

میاشتې) ورسته یې استعفا ورکړه او له حکومته څنګ ته شو.[1] او له اهلبیتو سره په جنګ کولو او قتلولو یې په خپل پلار نیکه باندې نیوکه وکړه.

د یزید په مرګ سره عبدالله بن زبیر چې په کلونو د خلافت او حکومت په طمع ؤ په مکې کښې پاڅید او حجاز، یمن، عراق او خراسان خلقو هم د هغهٔ بیعت وکړو. په شام کښې مروان بن حکم د معاویه بن یزید له مرګه ورسته په یو سازش سره په ګدۍ کښیناست او له عبدالله بن زبیر سره یې مخالفت شروع کړ. په دوکې او چل ول سره یې شام او بیا مصر ونیوهٔ خو حکومت یې ډیر پاتې نهٔ شو ځکه چې لږه موده پس مړ شو او ځوې عبدالملک یې په ځایې کښیناست.[2]

عبدالملک په پنځهٔ شپیتیم هجري کال کښې په ګدۍ کښیناست او د خپل پوزیشن له کلکولو او د شام او مصر تر نیولو وروسته یې عبدالله بن زبیر په مکه کښې محاصره کړواو وې وژلو.[3] عبدالملک یو ظالم او بې رحمه کس ؤ یوه ورځ یې سعید بن مسیب ته وویل زما طبیعت داسې دی چې په ښهٔ کار خوشحالیږم نه او په بد کار خفه کیږم نه، سعید ورته وویل: معلومیږي چې زړهٔ دې بلکل مړ شوی دی.

1 . کامل ابن اثیر ج 4 ص 130

2 . تاریخ الخلفاء سیوطي ص 212

3 . کامل ابن اثیر ج 4 ص 348

د عبدلملک له لويو جنايتونو څخه په کوفې او بصرې کښې د حجاج بن يوسف ثقفي ګورنرول وو، حجاج د اموي حکومت تر ټولو خونړی او رذيله څيره ده. هغۀ د خلقو د ځورولو او ازارولوبيماري (ساديزم) لرله او په ډيره وحشيانه توګه به يې خلق وژل او شکنجه کول. په تيره بيا د اهلبيتو(ع) د دوستانو ختمولو ته يې خو سمه ملا تړلې وه او د خپل حکومت په لنډه موده کښې يې قابو يو سل شل زره تنه وژل.[1] عبدالملک د امام سجاد (ع) سخته څارنه کوله او تل به په دې لټه کښې ؤ چې د امام سجاد (ع) په کړچار کښې څۀ اشکال يا غلطي پيدا کړي او په دې پلمه له امام سره سختي وکړي چې سپک يې کړي. امام سجاد (ع) له خپلې يوې وينځې سره چې ازاده کړې يې وه، وادۀ وکړ. د عبدالملک جاسوسانو عبدالملک خبر کړو او هغۀ امام ته يو سپک ليک واستوۀ چې ما ته پته لګيدلې چې تا له خپلې ازادې کړې وينځې سره وادۀ کړی دی، حال دا چې په قريشو کښې داسې مشهورې ښځې شته چې له هغوي سره وادۀ ستا د عظمت او وياړ سبب کيدی شو او تاته به ترې ښه اولاد په لاس درغلې ؤ. تا په دې وادۀ سره نۀ د خپل ځان خيال ساتلی دی او نۀ دې د بچيو د بزرګۍ لپاره څۀ لاره پريښې ده. امام په ځواب کښې وليکل: ستا ليک راورسيدۀ تا له ازادې شوې وينځې سره په وادۀ ما

1 . کامل ابن اثير ج 4 ص 587

ته بد ويلي دي او ګمان دې کړې دی چې د قريشو لويو ښځوسره به زما وادهٔ، ما وياړمن کړي او ښهٔ بچې به مې نصيب شي. حال دا چې په لويۍ او بزرګۍ کښې هيڅوک زمونږ يعنی د پيغمبر(ص) له کورنۍ لوړ نهٔ دي. او له مونږ سره وادهٔ کول د لويۍ سبب کيږي، څوک چې د خدايې په دين کښې پاک وي هيڅوک د هغهٔ شخصيت ته تاوان نشي رسولی. خدايې پاک د اسلام په ذريعه پستي او کموالی له منځه وړي (څوک چې مسلمان شي که فقير او کنيزه يا غلام هم وي له هغهٔ سره وادهٔ هيڅ بد نهٔ لري)[1]

عبدالملک يو ځل د امام د سپکاوي، د خلقو د ويرولو او د هر ډول فعاليت د مخنيوي لپاره امام ډير په سختۍ سره شام ته راوغوښت او بيا يې مدينې ته ستون کړ.[2] د هجرت په شپږ اتيايم کال کښې د عبدالملک له مرګه وروسته د هغهٔ ځوې وليد د هغه په ګدۍ کښيناست. وليد هم ظالم او بې پروا سړی ؤ. جلال الدين سيوطي د هغهٔ په حقله ليکي:كَانَ الوَلِيدُ جباراً ظالماً (وليد يو ظالم او ستمګر سړی ؤ)[3]

وليد په خپلې لومړۍ وينا کښې وويل: څوک چې زمونږ په وړاندې سر هسک کړي هغه به ووژنم او څوک چې غلي پاتې

---

1 . کافي ج 5 ص 344

2 . تذکره الخواص

3 . تاريخ الخلفاء ص 223

شي. چپتيا به يې ووژني.[1] وليد هم دې لپاره چې حکومت ته يې خطره رامنځته نشي د مسلمانانو په ټولنه کښې يې د امام وجود ونۀ زغمۀ او په يو سازش سره يې هغۀ مبارک ته زهر ورکړل.[2]

د امام سجاد (ع) د امامت د وخت حالاتو ته چې له بيلا بيلو ټولنيزو کړکيچنو بلواګانو او مسئلو ډک ؤ په يوې کتنې سره او له امام څخه د دغو ظالمو او جنايتکارو واکمنانو سختو څارنو او د ايمان لرونکو، سر ښيندونکو او مجاهدو يارانو نه شتون ته په پام سره دې نتيجې ته رسيږو چې هغه حضرت له منفي مبارزې،د ښو شاګردانو له روزلواو د علمي او اخلاقي اثارو له خپرولو پرته بله چاره نۀ لرله.

يوه ورځ امام حج ته روان ؤ چې په لاره کښې ورته يو سړي وويل:جهاد او سختي دې پريښې او حج ته دې، چې يو اسان کار دی، مخه کړې ده؟ امام ورته ويل که وفا لرونکي او ايمان لرونکي ياران مې وی نو جهاد له حجه غوره دی.[3]

ابو عمر نهدی وايي: امام سجاد (ع) به فرمايل په مکې او مدينې کښې زمونږ شل تنه رښتيني او وفادار دوستان نشته.[4]

---

1 . تاريخ طبري ج 8 ص **1178** چاپ لندن

2 . مناقب شهر اشوب ج 3 ص **311**

3 . احتجاج طبرسي ص **171**

4 . شرح نهج البلاغه ابن ابي الحديد ج 4 ص **104**

# امام او مسلمانو ته ښوونه او روزنه

د کربلا له پیښې او مدینې ته تر ستنیدو وروسته د امام سجاد (ع) یو پروګرام د ځینو مسلمانو کسانو روزنه او د هغوي په وسیله د حدیثونو او اسلامي علومو خپرول وؤ.

شیخ طوسي د هغو کسانو شمیر چې د امام اصحابان وو یا یې له هغوي روایتونه نقل کړي دي یو سل اویا تنه ښئي. چې د نمونې لپاره یوازې د دریو کسانو نومونه اخلم.[1]

1. سعید بن مسیب: امام سجاد (ع) ددهٔ په حقله وائي: سعید د تیرو اثارو په حقله له ټولو عالم او پوه دی او په خپلې زمانې کښې له ټولو اصحابو ښهٔ پوهیږي.[2]
2. ابو حمزه ثمالي.
3. سعید بن جبیر: چې دی هم ډیر لویې عالم ؤ.

# صحیفهٔ سجادیه

د ضرورتونو او مشکلاتو په وخت خدایې ته دعا کول او له هغهٔ مرسته غوښتل یو فطري کار دی.او له همدې امله کله چې

1 . رجال شیخ طوسي ص 81

2 . رجال کشي ص 119

انسان له ټولو وسیلو مایوسه شي او ټولې لارې پرې بند شی د خداي لویې قدرت او رحمت ته لاس هسکوي او له هغهٔ غواړي. او حقیقت دا دی چې د مشکلاتو په داسې طوفان کښې یوازې د دعا په وسیله زړونه ارامیږي، اندیښنې له منځه ځي او روح ته یوه غښتلې تکیه په لاس ورځي.

سائیکالوجسټان او نفسیاتي ډاکټران پوهیږي چې دعا د انسان د روح لپاره ډیره ښه دوا خوراک او سترو ستومانو روحونو ته ارام ورکوونکې او تازه کوونکې ده. چې د انسان دننه دړدونه کموي او روح ته ارام ورکوي. په اسلام کښې له دې فطري چارې څخه د انسان د لارښوونې او روزنې لپاره کار اخستل شوی دی. د اسلام مخکښانو چې بیلا بیلې دعاګانې او ثناګانې یې پریښی دي په دې طریقه خپلو منوونکو ته سمې عقیدې او تعلیمونه ورکړي دي او د انسان د ناروغیو او روحي سپیڅلتیاؤ لپاره یې علاجونه وړاندې کړي دي.

یو پوه او محقق په دې حقله لیکي: د اسلام له علمي او روزنیزو زیرمو څخه هغه دعاګانې هم دي چې له رسول اکرم او امامانو نقل شوي دي.ځکه چې په دغو دعاګانو کښې د توحید، الهیاتو، نبوت، امامت، د حکومت او واکمنۍ د نظام، اخلاقو، ښاریزو حقونو او د بیلابیلو ادابو او اخلاقو په باب خبرې شوی دي. په دا ډول چې ویلی شو دا ټولې دعاګانې یوه داسې لویه مدرسه ده چې د مسلمانانو په روحي او ټولنیزې ودې او پر مختګ کښې لویې اغیز لري او تر څو

چې مسلمانان دغه مدرسه ونۀ ويني د هغوي اسلامي شخصيت نۀ کامليږي. په هغو دعاګانو کښې چې زمونږ له قدرمنو مخکښانو راپاتې شوي دي "صحيفه سجاديه" چې څلورم امام ليکلې ده، خاصه ځلا او اهميت لري.

يو لويې اهلسنت عالم او د "الجواهر" تفسير مفسر ته چې کله دا نسخه د قم له علميه حوزوی ور واستول شوه او په لاس ورغله نو وې ويل: دا کتاب مې ډير په احترام سره واخستو او دا ځانګړې او يوازينی کتاب دی چې داسې علمونه، معرفتونه او حکمتونه پکښې موجود دي چې په نورو کتابونو کښې نۀ پيدا کيږي. په حقيقت کښې دا زمونږ بد بختي او بدمرغي ده چې تر اوسه راته د نبوت او اهلبيتو دا قيمتي او تل پاتې کتاب په لاس نۀ ؤ راغلی، څومره چې ددې مطالعه کوم نو راته معلوميږي چې دا د مخلوق له کلامه اوچت او دخدايې له کلامه راټيټ يو کلام دی. په رښتيا سره چې څومره قدرمن کتاب دې خدايې تا سو ته ددې ښې هديې ښه بدله درکړه.[1]

له دې ارجمن کتاب سره د لازياتې اشنايۍ لپاره ددې د دعاګانو فهرست وړاندې کوم

1. د خدايې ستاينه
2. د محمد (ص)او د هغۀ په کورنۍ درود

1 . د صحيفه سجاديه د ترجمې په پايې کښې.

3. د عرش په فرښتو سلام
4. د انبیاوو د منوونکو لپاره د رحمت غوښتنه
5. د خپل ځان او ملګرو لپاره د هغه حضرت دعا د سهار او ماښام دعا
6. د سهار او ماښام دعا
7. د یوې خاصې پیښې یا غم په وخت د هغه حضرت دعا
8. د ناوړو او سپکو کارونو او ناخوښه املاقو څخه خدایې ته پناه وړل
9. د بخښنې غوښتنې دعا
10. خدایې تا پناه وړل
11. د نیکمرغۍ لپاره د امام دعا
12. د اعتراف او توبې د غوښتو دعا
13. د حاجتونو غوښتل
14. د ظالمانو دظلم او زیاتي په وخت و هغوي دعا
15. د ناروغۍ یا غم او دړد په وخت د هغوي دعا
16. د ګناهونو او عیبونو د بخښنې دعا
17. د شیطان د یادولو او د هغۀ له مکر او چال څخه د پناه غوښتلو په وخت د هغه حضرت دعا
18. د حاجت د پوره کیدو او د خطر د لرې کیدو په وخت د هغه حضرت دعا
19. له قحطه او وچ کالۍ وروسته د باران دعا

20. د ښو اود خوښو اخلاقو غوښتل
21. د غم په وخت دعا
22. د سختۍ او د کارونو د سختیدا په وخت دعا
23. د بخښنې او په هغې د شکر دعا
24. د مور او پلار لپاره دعا
25. د اولاد دعا
26. د ګاونډیو او ملګرو دعا
27. د اسلامي ملکونو د پوله ساتوونکو لپاره دعا
28. خدايې ته د پناه وړلو او د ویرې د ځرګندولو دعا
29. د روزۍ د تنګیده په وخت دعا
30. د پور د ورکولو لپاره دعا
31. د توبې او له خدایه د توبې د غوښتلو دعا
32. د شپې له مانځۀ وروسته دعا
33. دخیر غوښتلو دعا
34. د مشکلاتو او په ګناه کښې و ځینو کسانو د لیدلو په وخت دعا
35. د راضي کیدو په وخت دعا
36. د اسمان د غوریدو په وخت دعا
37. ددې اعتراف چې د ټولو نعمتونو شکر نشي ادا کیدی
38. د بندګانو د حقونو په ادا کولو له کوتاهۍ ځخه بخښنه

39. عفو او رحمت غوښتل
40. د مرګ د یادولو او یا د چا د مرګ د خبر د اوریدلو په وخت دعا
41. د پرده پوشۍ او له ګناهونو د ساتلو دعا
42. د قران لا قرائته ورسته دعا
43. د نوې میاشتې د لیدو په وخت دعا
44. د روژې د میاشتې د لومړیو ورځو دعا
45. د روژې د ختمیدو دعا
46. د وړوکي دختر او جمعې دعا
47. د عرفې د ورځې دعا
48. د لويې اختر او جمعې دعا
49. د دښمنانو د مکر د ختمولو دعا
50. لا خدایه د ویرې دعا
51. عاجزي او زاري
52. له خدایه په غوښتنې ټینګار
53. د خدایې در ته تواضع او عاجزي
54. او د غمونو د ختمیدلو دعا

د صحیفۀ سجادیه لپاره تراوسه ډیرې شرحې او ترجمې لیکل شوي دي.(چې عبدالرحیم دراني یې د پښتو ژباړه ترسره کړې ده)

# د ځينو دعاګانو ترجمه

په اتمې دعا کښې لولو: خدايه له حرص، سرکشۍ، بغاوت، زياتي، غصې، د حسد له غلبې، د صبر له کمښت، د قناعت له کمۍ، بد اخلاقۍ، د شهوت له دباؤ او زور، له تعصب، د هوس او هوا له پيروۍ، د هدايته له سرغړونې، د غفلت له خوبه، له ضرورته زيات د کار، د حقو په مقابل کښې د باطل له قبلولو، په ګناه له اصرار او ټينګار، د ګناه د ورې بللو، د عبادت او اطاعت له زيات بللو، له وس لرونکو سره د مقابلې او سيالۍ، او د غريبانو او خوارانو له سپک ګڼلو، د نيکي کوونکي له ناشکرۍ، له ظالم سره د ظلم له ملګرتيا او په مظلوم باندې له ظلم يا هغه څه چې زمونږ حق نۀ يې وغواړو يا د دين په ناپوهۍ سره څۀ ووايم، له دغو ټولو څخه تاته پناه وړم. اؤ تاته پناه وړم له دې چې له چا سره د خيانت نيت ولرم، يا په خپل کردار غره شم اواوږدې اوږدې ارزوګانې ولرم، او تا ته پناه وړم د باطن له خباثت او ککړتيا څخه او يا دا چې وړه ګناه هيڅ ونۀ بولم او له دې چې شيطان راباندې بري شي، زمونږ روزګار او ژوند په بلاګانو او مصيبتونو کښې ښکيل شي، يا کوم پاچا په مونږ ظلم وکړي، خدايه له اسراف او فضول خرچۍ څخه تا ته پناه وړم او له دې چې کافي روزي ونۀ لرم، خدايه د دښمنانو له سپين سترګۍ او ميرڅۍ مې وساتې او خپلو هم سارو ته مې اړمن مۀ کړې، له ناڅاپي مرګه مې

وساتې، پناه دروړم تا ته له ستر مصیبته او تر ټولو بدې بدمرغۍ او دعاقبت او اخرت له بدۍ، له نیکۍ بدلې څخه له محرومیدو او په عذاب کښې له ښکیلیدو.

خدایه سلام دې وی په محمد (ص) و د هغه په ال باندې ما او ټول مومنان سرې او ښځې په خپل رحمت سره له دغو بدیو په امن کښې کړې. یا ارحم الرحمین.

لویه خدایه! په خپلې مهربانۍ سره زما نیت کامل کړې. په تا مې یقین کلک کړې، او په خپل قدرت سره زما بدۍ او غلطۍ سمې کړې.

باره خدایه! په محمد (ص) او د هغهٔ په کورنۍ سلام ولیږه. او زما فکر ځانته واړوه. ما هغه څهٔ ته وهڅوه چې د قیامت په ورځ به یې رانه پوښتنه کوې او زما وختونه په هغه څهٔ کښې تیر کړې چې د کوم کار لپاره پیدا دی کړی یم، ما بې نیازه کړې او روزي مې پراخه کړې. په ناشکرۍ او غرور کښې مې ګرفتار نهٔ کړې ماته د عبادت توفیق راکړې او عبادت مې په ځان خوښونې سره مهٔ تباه کوې د خلقو لپاره زما لاسونه د خیر او نیکۍ وګرځوې او په نورو باندې له منته او احسان اړولو مې وساتې، لوړ اخلاق راکړې او له ځان خرڅونې مې وساتې.

لویه خدایه! په محمد (ص) او د هغهٔ په کورنۍ سلام ولیږه، د دې په بدله کښې چې ستا په نزد زما درجه او عزت کم شي په خلقو کښې زما درجه مهٔ لوړوې او ماته داسې ظاهري عزت مهٔ راکوې چې په باطن کښې مې په هماغه اندازه په خپل نزد

خوار کړې. خدایه درود او سلام دې وي په محمد(ص) او د هغۀ په کورنۍ. ماته داسې هدایت وکړې چې بیا ترې واونۀ ړم،داسې لار وښیې چې کوز ترې نۀ شم او داسې سم نیت راکړې چې تردید او شک پکښې ونۀ کړم. ما تر هغه وخته ژوندی وساتې چې عمر مې ستا په اطاعت او منښې کښې تیریږي او چې کله مې هم ژوند د شیطان ځاله شوه نو وامې خلې، ما واخلې تر دې مخکښې چې خپل نفرت کرکه او غصه په ما نازله کړې.

خدایه! ما ته د ظالمانو په وړاندې کلک او طاقتور لاس،د تیري ګرو په وړاندې تیزه ژبه او په دښمنانو برې راکړې. خدایه ماته طاقت راکړې چې له هغه چا سره چې له ما سره یې خیانت کړی دی په خیر ښیګړی سر مقابله وکړم، او څوک چې له ما لرې شوي دي نیکي وکړم . او چا چې زۀ محرومه کړی یم په بخشش سره یې بدله ورکړم، او چا چې زما غیبت کړی دی په نیکه یې یاد کړم، د ښیګړو او نیکیو شکر وکړم او له بدیو سترګې پټې کړم. خدایه درود او سلام دې وي په محمد(ص) او د هغۀ په کورنۍ. ما د ښو خلقو په کالیو سینګار کړه او د پرهیزګارو په سینګار او جامه مې پټ کړې چې زۀ د عدل په پراختیا، د غصې په څښلو،د فتنې او دښمنۍ د اور په مړ کولو، د تیتو پرکو زړونو په څرګندولو او د هغوي د عیبونو په پټولو، نرم خوي، عاجزي، خوش

اخلاقۍ، وقار، نرمۍ او په نیکیو کښې په بیړه کولو کښې کامیاب شم.

# د حقونو رساله

د امام سجاد (ع) یو بل قیمتي اثر او کتاب د "حقونو رساله" ده چې د پخوانیو عالمانو په کتابونو کښې یې یادونه شوې ده په تحف العقول کتاب کښې ټوله موجوده ده.او په من لا یحضره الفقیه، خصال ، امالي کښې یې هم ځنې برخې راغلي دي. بده نۀ ده چې له دغه کتابه هم ځینو برخو ته اشاره وکړم چې د هر یو شیز د حقونو په حقله یې لیکلی دی.

**د خداي حق:**

د لوي خداي حق په تا دا دی چې د هغۀ عبادت وکړې. شریک ورسره ونۀ ټاکې او که په اخلاص سره دې داسې وکړل نو خداي پاک به دې دنیا او اخرت ښۀ کړي.

**د نفس حق:**

د نفس حق په تا دا دی چې د خداي پاک په اطاعت کښې ترې کار واخلې.

**د ژبې حق:**

له بدو خبرو او کنځلو ساتل او د نیکو خبرو عادت، همدا شان د چتې او فضولو خبرو نه ځان بچول او له خلقو سره د ژبې په ذریعه نیکي کول.

**د غوږونو حق:**

د غوږونو حق له غیبته او ناجائز او حرامو څخه ددې ساتل دي.

**د سترګو حق:**

له حرامو نظارو ساتل، او د سترګو په ذریعه عبرت اخستل.

**د لاسونو او پښو حق:**

د پښو حق دا دی چې هغو ځایونو ته پرې لاړ نشې چې حلال نۀ دي ځکه چې په همدغو پښو به د صراط په پل ودریږی نو خیال کوه چې ونۀ ښویږې. او په اور کښې پرې نۀ وځې.

**د خیټې حق:**

دا دی چې د حرامو ځاله یې نۀ کړې او له ضرورته زیات ونۀ خورې.

**دعورتینو یا شرم ځایونو حق:**

چې له زنا او فحشاوو یې وساتې او د نورو له نظره یې پټ کړې.

**د نمانځۀ حق:**

د مانځۀ حق دا دی چې پوه شې چې مونځ د خدايې درته حاضريدل دي او په مانځۀ کښې خدايې ته ولاړ يې او که په دې پوه شوې نو په ډيرې عاجزۍ او غريبۍ سره به ودريږې او په زړۀ سره به هغۀ ته متوجې کيږې او د مونځ حق به ادا کړې.

## د حج حق:

دا دی چې پوه شې چې حج د خدايې درته ورتلل او له ګناهونو څخه خدايې ته پناه وړل دي. ستا د توبې د قبليدو وسيله او د هغې فريضې کول دي چې خدايې په تا فرض کړې ده.

## د روژې حق:

دا دی چې پوه شې چې روژه داسې پرده ده چې لويې خدايې ستا په خلۀ ،غوږونو، سترګو، خيټې او شرم ځايونو اچولې ده چې په دې وسيله دې له اوره وساتي او که روژه دې پريښوده نو د خدايې پرده دې شلولې ده.

## د صدقې حق:

دا دی چې خبر شی دا ستا په نزد د خدايې يوه صدقه ده. او داسې امانت دی چې ګواه ته يې حاجت نشته. که په دې خبره پوه شوې نو په هغه څۀ به دې زيات اطمينان وي چې په پټه يې د خدايې په لاس کښې ورکوې.او خبر شه چې صدقه په دنيا کښې تا له بلاګانو مصيبتونو او ناروغيو ساتي او په اخرت کښې له اوره.

## د قربانۍ حق:

دا دی چې لوي خداي ورسره وغواړی نۀ مخلوق.

## د استاد حق:

د هغۀ عزت او ورته د لويې والي ورکول دي، د هغۀ په وړاندې په ادب سره کښيناستل او د هغۀ خبرو ته ښۀ غوږ اچول دي. پکار ده چې په استاد باندې ستا اواز لوړ نۀ وي او که څوک ترې څه پوښتنه وکړي نو تۀ ځواب نۀ ورکوې بلکې پريږدې چې هغه په خپله ځواب ورکړي. د هغۀ په محفل کښې له چا سره خبرې مۀ کوه دهغۀ په مخکښې د چا غيبت نۀ دی پکار او که څوک د هغۀ غيبت وکړي نو پکار ده چې دفاع يې وکړې دهغه بدۍ او عيبونه پټ او نيکۍ ښکاره کړه ،له دښمن سره يې ملګرتيا او له دوست سره يې دښمني مه کوه. که په دغو دندو دې عمل وکړو نو فرښتې ګواهي ورکوي چې تۀ د خداي لپاره هغۀ ته ورغلی يې او علم دې ترې زده کړی دی نۀ د خلقو لپاره.

## د زده کونکی او د شاګرد حق:

په استاد باندې د شاګرد حق دا دی چې استاد پوه شي چې خدايې پاک چې کوم علم دۀ ته ورکړی او دی يې د شاګردانو مشر ټاکلی نو پکار ده چې نيک درس ورکړي په شاګردانو سختي ونۀ کړي او غصه نشي چې خدايې پرې خپل رحمت زيات کړي. او که خلق دې له خپله علمه منعې کړل او سختي

دې ورسره وکړه نو خدایې به درنه د علم رڼا واخلي او له سترګو به دې وغورزوي.

**د ښځې (ټبر) حق:**

په تا باندې د خپلې ښځې حق دا دی چې پوه شې چې خدایې هغه ستا د اسانتیا او محبت وسیله ګرځولې ده او دا په تا باندې د خدایې یو نعمت دی، نو عزت یې وکړه او محبت ورسره وکانده. کهٔ څه هم په هغې باندې ستا حق زیات دی خو په تا لازمه ده چې ورسره مهربان اوسی.

**د مور حق:**

دا دی چې تهٔ په دې پوه شې چې په داسې ځایې (خیټې) کښې یې ګرځولی یې چې نور څوک دې نهٔ ګرځوي. او تا ته یې د خپل زړهٔ میوه(وینه) درکړې ده چې هیڅوک چاته نهٔ ورکوي،تهٔ یې په خپلو ټولو غړو سره وساتلې او پروا یې ونهٔ لرله چې پخپله وږې وي خو تهٔ یې موړ کړې، تږې پاتې شوه خو تهٔ یې خړوب کړې، هیڅ پروه یې نهٔ وه.چې پخپله جامه ونهٔ لري خو تهٔ یې پټ کړې پخپله په نمر کښې وه او تهٔ یې سیوري ته کړې. ستا په خاطر یې شپې روڼې کړې او له تودو سړو یې وساتلې چې تهٔ ورته ژوندی پاتې شې. نو د خدایې له مرستې او د هغهٔ له توفیقه پرته د مور د شکریه او منښې توفیق نهٔ لرې.

**د پلار حق:**

خبر شه چې پلار ستا بنياد دی که هغه نۀ ؤ نو ته به هم نۀ وې. نو کله چې دې په ځان کښې کوم خوښوونکی او ښۀ صفت وليدۀ، پوه شه چې ددې نعمت اصل ستا پلار دی د خدايې شکر کوه او په همدې اندازه د پلار مننديوي اوسه.

**د زوی حق:**

دا دی چې پوه شی دې له تا دی او د دنيا په نيکو او بدو کښې په تا پورې تړلی دی او تۀ د هغه د روزنې، د خدايې په لور د هدايت او د خدايې د حکمونو په منلو کښې له هغۀ سره د مرستی ذمه وار يې. نو د هغۀ په کار کښې داسې اوسه چې ګوندې د هغۀ په نيکو کارونو تاته هم بدله ملاوېږي. او د هغۀ په بدو تا ته هم سزا.

**د ورور حق:**

دا دی چې هغه ستا لاس، ستا عزت او ستا توان دی. هغه د خدايې د نافرمانۍ او په مخلوق باندې د ظلم لپاره وسيله مۀ ګرځوه، د دښمن په وړاندې د هغۀ مرسته کوه او خير غوښتونکی يې اوسه او که د خدايې له اطاعته بغير ګام پورته کوي نو خدايې ته په هغۀ ترجيح ورکوه.

**د نيکې کوونکي حق:**

په تا دا دی چې د هغۀ مننديوي اوسې او نيکي يې ياده وساتې، د هغۀ ښه والې ووايې. خدايې ته د هغۀ لپاره خالصه دعا وکړې او که وس دې ورسيد د نيکۍ بدل يې ورکړې.

## د ملګري او شريک حق:

په تا دا دی چې نرمي ورسره وکړې او په خبرو کښې انصاف هغۀ تا ورکړې. نيکۍ يې يادې ساتې او بدۍ او غلطۍ يې هيرې کړې.

## د ګاونډي حق:

د هغۀ په نشتوالي کښې د هغۀ د حقوقو خيال ساتل دي، له هغۀ سره مرسته او که ظلم ځپلی وي نو مرسته ورسره پکار ده . پکار ده چې په عيبونو پسې يې ونۀ ګرځې، که بده دې ورځنې وليده نو پټه يې کړې، که نصيحت ورته وکړې په سختۍ يې يوازې پرې نۀ ږدې او نيک معاشرت او ګډ ژوند ورسره وکړې.

## د دوست حق:

دا دی چې په انصاف او عزت سره ورسره ناسته پاسته وکړې او څنګه چې ستا قدر کوي، قدر يې وکړې چې په دې کښې تر تا مخکښې نشي او که مخکښې شو نو بدله ورته ورکړې داسې مهربان ورسره اوسه لکه له تا سره چې مهربانه دی که د ګناه خيال او نيت وکړي نو منعې يې کړې او د هغۀ لپاره رحمت جوړ شه نۀ عذاب.

## په کار او مال کښې د شريک حق:

دا دی چې که غائب وي نو د هغۀ په ځايې کار وکړې او که موجود وي نو خيال يې وساتې. د هغۀ مخالف حکم ونۀ کړې

او د هغهٔ له مشورې پرته کار ونهٔ کاندې. د هغهٔ د مال خيال وساتې، او خيانت ورسره ونهٔ کړې ځکه چې تر څو دوه شريکه له يو بل سره خيانت ونهٔ کړي خدايې ورسره ملګرى وي. څوک چې دې منندوي نهٔ وي په ځان ورته ترجيح ورنهٔ کړې خپل مال د خدايې په اطاعت کښې ولګوې، بخل او کنجوسي ونهٔ کړې چې افسوس او پښيماني دې نصيب نشي.

## د پور غوښتونکي حق:

دا دى چې که پيسې يا بل څه لرې وريې کړې که نهٔ وي درسره نو نيک ځواب ورکړى چې هغه خوشاله شي.

## له تا سره د مشوره کوونى حق:

دا دى چې که پوهيږې نو لار ورته وښيې او که نهٔ پوهيږې نو داسې کس وروښيې چې په خپله پوهيږي .

له چا سره چه ته مشوره کوې که رايې يې له تا سره يو وي نو د خدايې شکر وکړه او که بدله وي نو تهمت پرې ونهٔ لګوې.

که چا درنه نصيحت وغوښت نو نصيحت ورته وکړه او مهرباني ورسره کوه، د لويو حق دا د چې د هغوي د عمر او په اسلام کښې تر تا له مخکښې کيدو په وجه يې عزت وکړې تر هغهٔ مخکښې روان نهٔ شې او مخې مخې ته يې نهٔ ځې.د وړوکي حق دا دى چې مهرباني ورسره وکړې دښوونې، بخښنې او د هغهٔ د عيب د پټولو په وخت او له هغهٔ سره د

مرستې په وخت د سوال کوونکي حق په تا دا دی چې که لا تا څۀ وغواړي نو د هغۀ داړتيا په اندازه يې ورکړې.

## شهادت

امام سجاد(ع) له مشهور روايت سره سم د هجرت په پنځه نويم کال د محرم په پنځۀ ويشتمه نيټه د **57** کالو په عمر کښې د کړاو مبارزې او د غمونو له يو ډک ژوند ورسته د بني اميه و د ظالم باچا وليد بن عبدالملک په وسيله په زهرو سره شهيد کړې شو او د خپل ترۀ حضرت امام حسن (ع) د قبر په خوا کښې په بقيع اديره کښې خاورو ته وسپارل شو.

✡ ✡ ✡